Delmi

EUROPEAN UNION
Asylum, Migration
and Integration Fund

د پالیسی لنډیز
2021:10

# هغوی چې بېرته پلېږدول شوي وو

د رد شویو پناه غوښتونکو بېرته راستنېدل او بېرته په ځای کېدل وروسته له هغه چې یو ځو یې بېرته راستانه شول، د اروپا په لر او بر کې یې د پالیسي جوړوونکو لخوا ډېر پام ځانته اړولی دی. د بېلابېلو شرایطو او حالاتو په اړه ډېر څه لیکل شوي دي، چې باید د بېرته راستنېدو او دوامداره بیا یوځای کېدو آسانتیا برابره کړي. په هر صورت، لږ شمېر کسانو دا کار د هغو کسانو له تجربو او لیدلوریو څخه پیل کړی چې د پناه غوښتنې او بېرته ستنېدو له پروسې څخه تېر شوي دي او اوس هڅه کوي چې په هغه هېواد کې چې یو وخت یې پرېښی وو بېرته یو ځای شي. په دې څېړنه کې هغه کسان چې بېرته لېږدول شوي وو: د هغو پناه غوښتونکو راستنېدل او بیا یو ځای کول چې افغانستان او عراق ته رد شوي وو او لېږدول شوي وو د کونستانزا ویرا-لاروشیا، هینریک لینډبرګ، او انډری اسپلنډ د راستنېدونکو کیسې چې د کډوالۍ د تجربې بېلابېل اړخونه او پروسه چې کېداې شي د راستنېدو وروسته بیا یو ځای کېدل اغېزمن کړي د AMIF لخوا تمویل شوي.

## هغه کسانو ته پاملرنه زیاته شوې چې د پاتې کېدو اجازه نه لري

یوازې په درېو کې یو له هغو کسانو چې په اروپایي اتحادیه کې د اوسېدو اجازه نه لري هغوی ځي او هغه کسان چې ځي د هغوی له ډلې څخه د درېیمې برخې څخه کم هغه کسان دي چې په داوطلب ډول ځي. ډېره هڅه د هغو کسانو د برخې د زیاتولو لپاره شوې ده چې ځي او ورسره هغوی هڅوي چې په خپله خوښه لاړ شي. "د پناه غوښتنې او کډوالۍ په دې نوي تړون" کې چې تازه وړاندیز شوی وو لیدل کیداې شي

د اروپایي کمېسیون له لورې، کوم چې په دوامداره بیا مدغم کیدنې او بېلابېلو ستراتېژیو باندې ټینګار چې په خپله د بیا مدغم کېدو او راستنېدونکو د ملاتړ لپاره وړاندیز کوي.

د بیا راستنېدنې د دود کېدو لپاره، په ځانګړې ډول د خپلې راستنیدنې لپاره د هغو له ډلې څخه چې د اوسېدو اجازه نه لرې، یوه ستره برخه یې د بېلابېلو سرچینو د بیا مدغم کېدو او راستنېدو د ملاتړ او مرستې لپاره ځانګړې شوي دي (هم په نغدي ډول او هم د جنس په مقابل کې). دا د یو هڅوونکي په توګه د داوطلبانه راستنېدنې لپاره وړاندیز شوی، څکه چې په خپله خوښه راستنېدنه

د لګښت له مخې اغېزمنه او خواخوږي شمېرل کېږي. حتی هغه وګړي چې په خپلې خوښې پرته راستنېږي د بیا مدغم کېدو د مشخصو ډولونو د مرستې څخه برخمن کېداې شي. په پراخه او بډایه کچه ادبیات شتون لري کوم چې د یوې بې ستونزې راستنیدنې او بریالي مدغم کېدو لپاره ښېلابېل شرایط وړاندې کوې خو د راستنېدونکو له نظره، د مدغم کېدو په اړه د راستنېدنې فردي تجربو او شخصي مېتودونو په اړه لږ معلومات شتون لري. په دې څېړنه کې، داسې تجربې مرکزي ځای لري څنګه چې څېړونکي په سویډن کې د یو کډوال او پناه غوښتونکي د ژوند اړخونه او د هغې پروسې له نظره چې څرنګه به له راستنېدو وروسته ددوی راتلونکی اغېزمن کړي څېړي .له راستنېدو وروسته ژوند څرنګه وې، راستنېدونکی څه ستونزې لري، آیا دوی له هغو تجربو او علم څخه چې له هېواده بهر یې ترلاسه کړی دی څه پایلې ته رسېږي او دوي تر کومې کچې کولای شي د مدغم کېدو له ملاتړ او مرستو څخه ګټه پورته کړي؟ په لنډه توګه، د هغو له تجربو څخه چې د راستنېدو پروسه یې هیله او توقع لري چې په بریالي ډول د تل لپاره مدغم شي څه زده کولای شو؟

## د رد شویو پناه غوښتونکو تجربې

راپور د هغو سلو رد شویو پناه غوښتونکو پر شخصي تجربو باندې راڅرخي، کوم چې په تېرو کلونو کې له سویډن څخه افغانستان او عراق ته را ستانه شوي دي. د اطلاعاتو تحلیل او شننه پر داسې یو چوکاټ او جوړښت باندې راڅرخي، چې ګواکې مدغم کېدنه د راستنېدو وروسته یوه پېچلې پروسه ده کوم چې په بېلابېلو اړخونو لکه، اقتصادي، ټولنیز او رواني – ټولنیزو اړخونو باندې واقع کېږي. دا ګڼ شمېر عناصر په ځان کې رانغاړي لکه سرچینو او خدمتونو ته لاسرسی (اقتصادي ځای پر ځای کېدنه)؛ ټولنیزو شبکو ته لاسرسی د کومو له لارې چې معلومات لېږدول کېدای او د همکارانو سره پرې اړیکې پیاوړتیا موندلی شي (ټولنیزه ځای پر ځای کیدنه)؛ او همدا شان ددې وړتیا چې د یو چا د ژوند په اړه پریکړه وکړې، د خپل اوسېدو حس احساس کړې، او د خپلې ژغورنې په موخه وېره ونه لرې (رواني - ټولنیزه ځای پر ځای کېدنه) . د کډوالۍ د وخت څخه وړاندې د کډوالۍ د دوران بېلابېل اړخونه، د سویډن په لورې سفر، وخت د یو پناه غوښتونکي په توګه، د بیا راستنېدو پروسه او

د زوکړې ځای ته رارسېدنه – ټول داسې ګڼل کېږي چې بېلابېلې ځای پرځای کېدنې یا آسانه او یا هم ستونزمنې کړي او لکه څنګه چې په بیا مدغم کېدو په برخه کې د راستنېدونکو وړتیا اغېزمنوې.

## ژوند د هغو لپاره چې باید راستانه شوي وای څرنګه دی؟

ډېری برخه له هغو راستېدونکو څخه چې په څېړنه کې تشریح شوي دي د زیان لیدنې په بېلابېلو ډولونو کې یې ژوند کاوه وړاندې تر دې چې د سویډن په لور د خطرناک سفر هڅه وکړي. داسې ښکاري چې افغانان تر ډېره حده د ډېرو کلونو راهیسې په بېوزلۍ او ناامنۍ کې ژوند کوې او د ځورول کېدو د احساس له امله کډوالۍ ته اړ شوي دي. ځینې مخکې له دې چې اروپا ته د تګ لپار هوډ وکړې ایران ته د مالي فرصتونو لپاره تللي دې. نورو ویلې دي چې دوی په ایران کې زېږېدلي دي او هېڅ کله یې په افغانستان کې پښه نه ده ایښې، په داسې حال کې چې دوی افغان ملیت لرونکي وو. خو عراقیان، تر یوې لویې کچې معلومېږې چې تر افغانانو یې ښه ژوند درلوده، چې له کډوالۍ څخه یې مخکې وظیفوي او مالي فرصتونو ته لاسرسی درلوده. کله چې یوې کورنۍ ستونزې د دوی د ژوند انډول بی ثباته کړ –دوی د یوه قومي یا قبیلوي کشمکش یا ملیشه اي یرغل احساس وکړ، دوی وپتیله چې د هېواد د پرېښودو پرته بل انتخاب نه لري.

په سویډن کې د پناه غوښتونکې د اوسېدو بېلابېلو اړخونو د دوي د بېرته راستنېدو چمتووالی د پناه غوښتنې له رد شوي غوښتنلیک وروسته اغیزمن کړی. د پناه غوښتنې د پروسې اوږدوالی، د چوپړتیاوو برابروونکو ته چې د کډوالۍ له اداري سره اړیکه لري، ورسره د اړیکو کمزورتیا او هغو ته خرابه لاسرسې، او د پناه غوښتنې له پروسې څخه ناسمه پوهه، داسې څرګنده وي چې د راستنېدو لپاره چمتووالی له ستونزو سره مخ کوي. څرنګه چې، بېلابېل ځواب ویونکې داسې معلومېږې چې په سمه توګه چمتو نه دي، او همدارنګه داسې یو پلان نه لري چې وواېي څنګه له رارسېدو وروسته په خپل هیواد کې ژوند پیل کړو. د سفر د اسنادو په ترلاسه کولو کې د ستونزو موجودیت او د سفارت د کارمندانو له خوا بې احترامي او د همدردۍ احساس کموالی هغه څه دي چې د افغان ځواب ویونکو له لورې یې یادونه شوې ده، چې لږ تر لږه یې د راستنېدو چاره هم نه ده اسانه کړې.

له را ستېدو وروسته، ډېرو یې د هغو خطرناکو تجربو او سره ورته حالاتو یادونه کړې ده چې دوي یې په لومړیو کې د خپلو ځایونو پرېښودو ته اړ کړي وو. دا حالت د بیا یو ځای کېدو په پار د هغوی وړتیا او توان ننګوي.

په ځانګړې ډول د ژوند په ټولنیز او رواني-ټولنیزه برخه کې. ډېرى برخه، هغه چې راستانه شوي دي ډېر ناوړه مالي شرایطو سره مخ دي. بېکارۍ، د مالي فرصتونو کموالی او د ژوند او بریا لپاره په دایمي ستونزو کې اوسیدل د ډېرو د ژوند شرایط تعریفوې. د ډېرو لپاره ناوړه مالي واقعیتت تر یوه بریده د کرونا وبا د بندیزونو له امله کېدای شوه چې د مصاحبې پر وخت دې بندیزونو شتون درلود. د ډېرو راستېندونکو افغانانو لپاره، مالي لید داسې بد دی که بدتر نه وي نظر هغه وخت ته کله چې دوی هېواد پرېښوده. د ډېرو عراقیانو لپاره، شرایط داسې معلومیږې، چې لږ تر لږه د وتلو د وخت په پرتله مالي شرایط ډېر خراب دې، ځکه چې دوی د افغانانو په پرتله په ښه وضعیت کې وو، مګر د کډوالۍ لپاره یې ډېر لګښت کړی وو.

د ټولنیزو شبکو شتون په دواړه حالاتو کې، د راستنېدونکو د یوځای کېدو په وړتیا کې مهم رول لوبولی شي. ډېرى افغانان داسې تر سترګو کیږي چې ټولنېزي شبکې، کورنۍ او خپلوان او همدا شان واسطه (شخصي اړیکې) نه لري، کوم چې اقتصادي مدغم کېدنه ننګوي او ډېر داسې نور یوازې او زیان منونکي پرېږدې. په عراق کې، څه ناڅه ډېر ځواب ویونکي بېرته تر یو حده شهرت، فامیل او دوستانو ته په موجودو ټولنیزو شبکو کې رسېدلي دي. بیا هم، یو شمېر ځواب ویونکي په عراق کې نا توانه وو چې د داسې مواردو څخه ګټه پورته کړي، ځکه چې تصور شوی خطر د دوی ژوند ته داسې وو چې دوی پټېدل اړین ګڼل.

د یو راپور له مخې هغه پوهه او مهارتونه چې په سویډن کې ترلاسه شوي دي او راستنېدونکي چاپیریال ته د لېږدېدو وړ نه دي او نه په دې لحاظ د مدغم کېدو پروسې سره په یوه معنا لرونکې بڼه مرسته کوې. په سویډن کې وخت، تر ډېره د وخت ضایع بلل کیږې، چې دوی یې نظر د دوی سیالانو ته د وخت له نظره شاته پاتې کړې دي. ډېر راستانه شوي د نا هیلیتوب او تشویش احساس کوې چې دوي خپل هغه حقیقت چې وو او اوس باید بیا هم د هغو سره ژوند وکړې: یو ښه ژوند که چېرې دوي په سویډن کې پاتې شوي وای. په ځانګړې توګه دوي ددې لپاره چې پناه غوښتنه یې نه ده منل شوې د بې عدالتۍ یو کړکېچن حس لري.
د راستنېدو د شته مرستو د بېلابېلو ډولونو په ځانګړې ډول د بیا ځای پر ځای کېدو مرسته او د منل کېدو کوچنۍ مرسته، (اوس ورځو کې د نغدو پیسو په ډول) یو څه هوساینه د مالي مشکلاتو چې د راتلو په وخت کې ورسره مخامخ کیږې. د بیا ځای پر ځای کېدو مرسته) (تقریباً ۳۰۰۰ یورو د ای او ایم لخوا هغو ته ارایه کیږې چې په خپله خوښه راستنیږې) معمولاً د ژوند د لګښتونو پوره کولو پخاطر، په کور باندې، غذایي موادو او د پوروونو د ورکړې لپاره پکار وړل کیږې. یوازې په محدود شمېر قضیو کې دا د عاید د تولید لپاره کارول کیږې چې کېدای شي د ځان بسیاینې لامل شي. څېړنه وایي چې د مرستو په اړه د معلوماتو اړوند پرمختګ کې ځای شته. ځینې وایې چې دوی د سویډن د اداراتو څخه معلومات نه دې ترلاسه کړي، پداسې حال کې چې نور وایي چې دوی د هغو مرستو چې د راتګ سره به یې ترلاسه کړي قسمي معلومات لاس ته راوړي دي. ځینې د مرستو په ترلاسه کولو داسې ستونزو ته، لکه ستونزمن پروسیجرونه، شرایط چې بشپړول یې ستونزمن دې، او اوږدو ځنډونو ته اشاره کوي. ټول دري ډوله د راستنېدو مرستو په دې لحاظه چې د راستنېدونکو منځ کې څومره د لاسرسي وړ دي په مناسبه اندازه تر نیوکې لاندې نیول شوي دي. د بیا یوځای کېدو مرسته چې د اروپایي راستنېدو او مدغم کېدو شبکې (ERRIN) له خوا د جنسونو د ارایې په ډول د مواردو لکه د یو کاروبار په پیلېدو کې مرسته (تر ۲۵۰۰ یورو)، ډېره نېوکه وربانديې شوې، په ځانګړې توګه د ډېرو شېبو انتظار وختونو ته په پام سره. د منل کېدو کوچنۍ مرسته (۱۴۷ امریکایی ډالر، نغدې پیسې د کابل په هوایي ډګر کې) له بله اړخه ډېر کم داسې ګڼل شوي چې اخیستل دې ستونزمن واوسي.

د ډېرو ځواب ویونکو لپاره، اوسني شرایط ګواښوونکي، زیان منونکي، او سیاسي او اقتصادي بې ثباتۍ ته احساس دې. آیا دا چې یو څوک کولای شي د تلپاتې راستنېدو او یوځای کېدو په اړه خبرې وکړي د مفاهیمو په تعریف پورې اړه لرې. که د بیا راستنېدو دوامداروالی ددې سره چې یو خپل ژوند په مالي لحاظ برقراره وساتي مساوي وې، ځان بسیا دې که نه، په څېړنه کې به ډېر کم داسې وګڼل شي چې په دوامداره ډول راګرځېدلي دي. که چېرې د ادغام روان - ټولنیز اړخونه، یا هم ځای پر ځای کېدنه، همدارنګه شتون ولري، حتی یو ځواب ورکونکی کېدای شي په دوامداره ډول مدغم شوي وګڼل شي. په حقیقت کې، څه چې په دې څېړنه کې د راستنېدونکو لپاره تر مالي فرصتونو مهم ګڼل کیږې، امنتیت او شخصي خوندیتوب احساس دی. د ډېرو لپاره، دا اړخونه د دوی پلانونو لپاره ټاکونکی ګڼل کیدل په خپل هیواد کې پاتې کیدل یا اروپا ته کډوال کیدل وو.

Stockholm 2021, ISBN: 978-91-88021-83-0

## د پالیسی سپاربښتنې

یو شمېر د پالیسی اړوند اقدامات ددې لپاره چې د راګرځېدونکو تابیا زیاته کړي وړاندیز شوي دي. د سپاربښتنې لومړۍ ټولګه باید چې د پناه غوښتنې د پروسې په اړه وي. په لومړیو کې، د تم کېدو وخت د پناه غوښتنې د پرېکړې لپاره باید لنډ واوسي. سربېره پر دې، زمونږ پایلې وړاندیز کوي چې د غوښتونکو او د کډوالۍ د ادارې تر منځ ښه ارتباطاتو ته اړتیا شتون لري. د پناه غوښتنې د پریکړې په اړه معلومات، د راستنېدو تګلارې، او د راستنیدو شته مرسته باید پداسې ډول انتقال شي چې به بشپړ ډول راستانه شوو ته د پوهېدو وړ او مفصل وي. مسلکي او باور رامینځته کولو ژباړونکو او حقوقي مشاورینو ته لاسرسی، او د غیر اړینو منځګړونکو څخه ډډه کول، د هغو معلوماتو کیفیت  چې پناه غوښتونکی یې ترلاسه کوي اغیزمن کوي.

دویمه سپاربښتنه دوه اړخیزو اړیکو ته اشاره کوي. یو وړاندیز د حکومتونو تر منځ ګډ تمویل شوی همکارۍ ته د راستنېد په اړه کېدلای شي د سفارتونو په واحدونو کې رامنځته شي، کوم چې دا دنده به ولري چې د هغه اسنادو پروسس چې د پناه غوښتنې، یا د راګرځېدو لپاره دی اسانه کړی. داسې واحدونه، معلومات او لارښوونې راستنېدونکو ته ددوی د حقوقو او مسئوولیتونو او د یوځای کېدو په اړه د مرستې د جوړښت په اړه وړاندې کولای شي.

درېیمه ټولګه سپاربښتنې د راستنېدو څخه وروسته وخت باندې تمرکز کوي. د مدغم کېدو او راستنېدو د مرستو د میکانېزمونو پلي کول، باید دا تضمین کړي چې هغه مرستو ته چې پر شرابطو برابر او د مدغم کېدو د مالي مرستې غوښتنه یې کړې وې د رارسېدو وروسته پر وخت او په سم مدیریت سره ورکړل شي. په ورته وخت کې، د راستنېدونکو منځ کې باېد مخکیني بیلابیل شرایط په پام کې ونیول شي، دا مهمه ده چې پروګرام د هر فرد ځانګړو اړتیاوو ته رسېدګې کوې، نه دا چې یوه حل لاره د ټولو ستونزو لپاره بس ده. سره له دې، د خدمتونو د عرضه کوونکو لپاره یوې خپلواکې او سیستماتیکې ارزونې ته په هغه هېوادونو کې لکه عراق او افغانستان، اړتیا ده کوم چې مونږ سره په مرستې سره په هغو مواردو رڼا اچولې شي چې کېدای شي نور هم ښه شي.

په پای کې، راپور سپاربښتنه کوي چې اړونده ادارې، سازمانونه او علمي ټولنه باېد د بیا ادغام کېدو په دننه کې د تعریفاتو په اړه دویم فکر وکړي، په ځانګړې ډول، ”تلپاتې والی یا ثبات“، ترڅو دا د اشخاصو ریښتینې پروسې او اړتیاوې منعکس کړي چې بیرته راستنیدو او یوځای کیدو سره مخ دي.

Constanza Vera-Larrucea, Henrik Malm Lindberg and André Asplund
هغوی چې بېرته لېږدول شوي وو
د ډیلمي د پالیسی خلاصه 2021:10
د ډیلمی د عرف سره سم، د لنډیز لیکوالانو په ټوله کې د ددې د مطالبو، پایلو او سپاربښتنو په اړه مسئول دي.

Delmi
SWEDISH GOVERNMENT INQUIRIES
The Migration Studies Delegation
Ju 2013:17